# الغاشية

**مکی سورة دی ۲۶ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡغَٰشِيَةِ ١

**آیا له هغې هیبتناکې احاطه کوونکې پیښې ( قیامت)نه خبر یې( چې غیږه به یې له ټولو خلکو راچاپیره شی).**

وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ٢

**ځینې مخونه به په دغه ورځ ذلیل او شرمیدلی وی.**

عَامِلَةٞ نَّاصِبَةٞ ٣

**پخپلو ټولو( دنیوی هلو ځلو) به ستومانه وی( چې هیڅ ګټه یې ورته و نه رسوله).**

تَصۡلَىٰ نَارًا حَامِيَةٗ ٤

**سوځوونکی اور ته به ورغورځی.**

تُسۡقَىٰ مِنۡ عَيۡنٍ ءَانِيَةٖ ٥

**څښاک به یې د جوشیدلو اوبو له چینې څخه وی.**

لَّيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٖ ٦

**خواړه به یې هم زهرجن اغزن بوټی وی.**

لَّا يُسۡمِنُ وَلَا يُغۡنِي مِن جُوعٖ ٧

**چې نه به پرې قوت اخلی او نه به یې ولږه کموی.**

وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاعِمَةٞ ٨

**( بل خوا به) یو شمیر څیرې په دغه ورځ ښیرازه او له خوښی ډکې وی.**

لِّسَعۡيِهَا رَاضِيَةٞ ٩

**پخپلو( دنيوى) هلو ځلو( عبادتونو او نيکو عملونو) به خوښ او مطمئن وى.**

فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ١٠

**په ډيرو عاليشانو جنتونو کې به اوسيږى.**

لَّا تَسۡمَعُ فِيهَا لَٰغِيَةٗ ١١

**هيڅ خوشې او عبث خبره به نه اورى.**

فِيهَا عَيۡنٞ جَارِيَةٞ ١٢

**روانې رڼې چينې به وى.**

فِيهَا سُرُرٞ مَّرۡفُوعَةٞ ١٣

**ارزښتناک لوړ او مجلل تختونه به وى.**

وَأَكۡوَابٞ مَّوۡضُوعَةٞ ١٤

**او (د چينو ترڅنګ به) جامونه پراته وى.**

وَنَمَارِقُ مَصۡفُوفَةٞ ١٥

**او هم به کتار شوى بالښتونه وى( چې جنتيان ورته ډډې وهى).**

وَزَرَابِيُّ مَبۡثُوثَةٌ ١٦

**او فاخره فرشونه به غوړيدلى وى.**

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلۡإِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ ١٧

**نو آيا( کافران د اوښ جسمانى هيکل او جوړښت ته په دقت او تأمل) نه ګورى چې څنګه پيدا شوى دى؟**

وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ رُفِعَتۡ ١٨

**او آسمان ته (نه ګورى) چې څنګه( بې له ستنو جوړ او) پورته شوى دى؟**

وَإِلَى ٱلۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ ١٩

او غرونو ته( نه ګورۍ) چې څنګه( په ځمکه کې) ټینګ شوي دي؟

وَإِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَيۡفَ سُطِحَتۡ ٢٠

او ځمکې ته (پام نه اړوي) چې څه ډول هواره غوړېدلې ده؟

فَذَكِّرۡ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٞ ٢١

نو (ای پیغمبره!) وعظ او نصیحت ته ادامه ورکړه، ځکه ستا وظیفه نصیحت کول دي.

لَّسۡتَ عَلَيۡهِم بِمُصَيۡطِرٍ ٢٢

مکلف نه یې چې هغوی( په زور او جبر ایمان راوړلو ته اړ باسې).

إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ٢٣

خو څوک چې ستا له پرله پسې( وعظ او نصیحت نه) مخ ګرځوي او کفر غوره کوي،

فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَكۡبَرَ ٢٤

الله تعالی به یې په لوی عذاب اخته کړي.

إِنَّ إِلَيۡنَآ إِيَابَهُمۡ ٢٥

د راتګ (وروستۍ مرجع یې) زمونږ حضور دی چې (هرومرو به) راته راځي.

ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُم ٢٦

بیا یې مؤاخذه او حساب زمونږ په عهده دی.

« تمت سورة الغاشية بفضل الله و رحمته»

====================